ډاکترمحب زغم ۲۰۲۳/۰۳/۲۱

د پیوندولو هنر

پخوا چې نیستي ډېره وه، خلکو ژر ژر نوي جامې نه شوای جوړولای، نو د خپلو زړو جامو په شلېدلو ځایونو کې به یې پیوندونه لګول. د سلیقې خاوندو مېرمنو به د پیوند لپاره د جامو په رنګ ټوکر پیدا کړ، بیا به یې د هماغه رنګ تار واخیست او بخیه به یې هم داسې نرۍ ولګوله، چې له لرې به څوك نه پوهېدل، چې دغه کالي پیوند لري که نه؟ خو ناکاره او ټنبلې ښځې بیا داسې نه وې. مثلاً دوی به شنو کالیو ته زېړ پیوند ورکړ او په سره تار به یې وګنډل، ښکاره ده، چې داسې پیوندونه به ډېر بد بربېښېدل.
پیوند په موسیقۍ کې هم وي. د شعر له محتوا سره مناسب کمپوز او له کمپوز سره مناسب موزیك باید پیوند شي. ځینې هنرمند سندرغاړي دا کار په ښه شان سره کوي، خو ځینې نور ورته پام نه کوي. د عبدالله مقري اکثره سندرې د شعر په لحاظ خورا ښې دي، دی معمولاً هېوادني شعرونه غوره کوي، کمپوز یې هم بد نه وي، خو موزیك یې بیا بیخي پر بله لاره ځي. د سندرې شعر به یې غمجن وي، کمپوز به یې هم همدا رنګ لري، خو ساز به یې لوګری ساز وي، چې سړی نڅا ته وربولي. البته شعر، کمپوز او موزیك د سندرې اساسي توکي دي، سندره بې له دغو دریو توکو نه جوړېږي، خو د دغو توکو سره پیوندول بیا بېل هنر دی.
په لیکوالۍ کې هم سړی ډېر کله مجبور شي، چې د خپلې لیکنې د اثر د زیاتولو او د خپلې خبرې د اثبات لپاره ځینې شیان سره پیوند کړي. د نورو له لیکنو اقتباس، د خپلو خاطرو بیان، د نورو د کیسو، مثالونو، تجربو او فرضیو یادونه، هغه لارې دي، چې په دې برخه کې ترې کار اخیستلای شو.
د بېلګې لپاره دغه مقاله، چې د ښاغلي باور شینواري لیکنه ده، ولولئ. دا مقاله په خدمتګار ورځپاڼه کې چاپ شوې وه:
ګوره که څوک دا سوال حل کړي
په اویایمه لسیزه کې یو کتاب لیکل شوی و، چې مقصد یې د سوسیالیزم، کمونیزم او اشتراکیت په هکله د عامه افکارو بدلون و. د دې کتاب په مقدمه کې لیکوال وایي، چې د سوسیالیزم دښمنان د خلکو د بدګمانه کولو لپاره داسې پروپاګند کوي، چې ګواکې په سوسیالیستي ټولنه کې خلک د شخصي ملکیت حق نه لري. د لیکوال په وینا دا هسې یو تهمت دی. د کتاب لیکوال وایي، چې ملکیت په دوه ډوله وي: یو هغه، چې د خلکو د کار او زیار په محصول باندې خپېږه واچول شي او خپله شتمني پرې
زیاته شي، بل ډول یې دا دی، چې په وسایلو باندې د یو څو تنو د واکمنۍ مخه ونیول شي او د ټولو شته وسایلو واک او محصول د ټولنې په ټولو وګړو باندې په مساوي توګه وویشل شي. د کتاب د لیکوال په اند دا دویم ډول ملکیت ګټور دی او همدا هغه بنسټ دی، چې یوه سوسیالیستي ټولنه پرې رامنځته کیدای شي. دا چې اوس د دې کتاب د لیکوال له مړینې هم لسیزې اوښتې او دغه راز کمونیزم هم ډېر پخوا ترخاورو لاندې شوی، زموږ له دې موضوع سره چندان سروکار نشته، خو زموږ د خپلې ټولنې ځینې ناسم دودونه ډېر ځوروونکي دي. په یوه سفر کې راسره د غزني ولایت یو زلمی ملګری و. دلارې په اوږدو کې له هیسته راهیسته غړیده ویل یې نږدې لس کاله کیږي، چې په ګاونډي هیواد کې په یوه نانوایي کې مزدوري کوي. زما د دې پوښتنې په ځواب کې، چې اوس څنګه وطن ته راستون شوی، د زلمي د مخ رنګ سور شو او په شرمناک انداز یې وویل، چې راتلونکې اوونۍ یې واده دی. د ځوان پر مخ د خوشحالي دغه رنګ تر ډېره پاتې نه شو، دویمه جمله یې دا وه، چې بیرته زر به مساپرۍ ته ځي. ده ویل، هلته مې د مزدورۍ لپاره ښه ځای پیدا کړی، داسې ښه ځایونه کله کله پیدا کیږي. د ده په وینا خسر یې خپل ماما دی او له ده سره یې ډېر ښه کړي، ځکه د نیم ولور په بدل کې یې د لور د واده ورکولو تابیا کړې. د ده له خولې، چې د نیم ولور مقدار ما واورید، نو د زلمي د میشت ځای غزني په ګاونډ کې د یوې بلې قبیلې یو خپل منځي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تړون رایاد شو، چې لسیزې پخوا یې د ولور دومره مقدار ټاکلی، چې د دې ځوان په نیم پاتې ولور د هغې قبیلې ځلور تنه ځوانان ودونه کولای شي. لسیزې واوښتې، خو د هغې قبیلې دغه تړون هیڅوک نه شي ماتولای. د هغه تړون یوه ماده بیا دا هم ده، چې د یادې قبیلې نجونه لومړی، خو باید د بلې قبیلې ځوانانو ته واده نه شي او که بیا ودیږي نو پلار یا ورور یې د ولور په اخستو کې د خوښې څښتن دی، خو که په خپله قبیله کې ودیږي، نو بیا هر څوک مکلف دی، چې ټاکلی ولور واخلي او بس!

پورته یاد کتاب د غزني د دې زلمي په کیسه پورې رایاد شو. د دې کتاب په مقدمه کې لیکوال د کمونیزم د تایید لپاره د نورو دلیلونو ترڅنګ د فلپین په هیواد کې په یوه ګڼ ځنګله کې، چې ورتګ ډیر ګران دي، د میشتې یوې قبیلې یادونه هم کوي. د ده په وینا دا قبیله تاسادي نومیږي او ټوله قبیله ایله سل تنه دي. له دې وروسته لیکوال د دې قبیلې په هکله لیکي، چې دا سوله خوښوونکې قبیله اوس هم د ډبرې په زمانه کې ژوند کوي. هیڅ راز وسله نه لري. ټول په یوه ستر غار کې ګډ ژوند کوي او له یوه بل سره په مینه وخت تیروي. دوی یو متل لري، چې وایي: "راځئ ټولو انسانانو ته په یوه سترګه وګورو".

وایي، په دې قبیله کې هیڅوک رییس یا سردار نه وي، بلکې په هره مساله کې د قبیلې هر غړی په ازادانه توګه خپله رایه کارولای شي. لیکوال که څه هم دا هڅه د سوسیالیستي نظام د کره ثابتولو لپاره کړې او غواړي دا ثابته کړي، چې د بشر ابتدایي ژوند د سوسیالیستي نظام یوه غوره بیلګه ده، خو موږ له دې تیریږو او دې بیلګې ته له یوې بلې زاویې ګورو. دا یوه سوالیه زاویه ده، داسې، چې له ټولنیزو علومو نه که څوک لږ یا ډېر هم خبر وي، نو ورسره به یوه پوښتنه پیدا کیږي، چې که تاسادي قبیله، چې لا هم د ډبرې په زمانه کې ژوند کوي، د خپل ژوند د هوسا تیرولو لپاره ځینې ګامونه اخلي، نو موږ ولې د یوه ناسم دود په له منځه وړلو کې هم پاتې راغلي یو؟

هغه مسایل، چې موږ ته له بهر نه راځي، موږ یې په یوه خوله غندو او د حل کولو مسوولیت یې هم خپل نه بولو، خو هغه جګړه، چې موږ یې د قبیلویت په نوم له خپل ځان سره کوو، باید څوک یې پای ته ورسوي؟

د غزني وال زلمي ستونزه نه خو بهرنیانو راوړې ده او نه هم ده پخپله یا هغې مظلومې، چې د ده په نوم به سر سپینوي پیدا کړي ده، بلکې په زغرده یې باید ووایو، چې دا د قبیلوي نظام زیږنده ده، خو بیا هم بوږنونکی سوال پخپل ځای پاتې دی، چې دا ستونزه به بالاخره اواروي څوک؟

***

باور شینواري دلته د مقالې په سر کې د یوه کمونیست لیکوال له کتابه غږېدلی دی. سړی چې د مقالې پیل لولي، نو ګومان کوي، مقاله به د کمونیزم په ملاتړ یا پر ضد لیکل شوې وي، خو وروسته وینو، چې د مقالې لیکوال غواړي زموږ پر قبیلوي ژوند نیوکه وکړي، چې خپل ناسم دودونه لا تر اوسه پالو. دغه یادونه او اقتباس د مقالې له موضوع سره هېڅ اړخ نه لګوي.

شینواری وروسته له هماغه کتابه د فلیپین د یوې قبیلې مثال هم راوړي او غواړي وښیي، چې موږ هم د خپلو قبیلو ستونزې د هغوی په شان حل کولای شو، خو حتی همدا اقتباس هم د ده د مقالې له موضوع سره تړاو نه لري. په مقاله کې د غزنیوال لالهانده زلمي کیسه راغلې ده، چې د ولور غم سرګردانه کړی دی. دلته اساسي ستونزه ولور دی، خو د فلیپني قبیلې ذکر داسې راغلی دی، چې وګړي یې سوله خوښوونکي دي، وسله نه لري او په مینه سره ژوند کوي، مشر او کشر نه لري، په هره خبره سره سلا مشوري کوي او هر څوك خپل نظر څرګندولای شي. د قبیلې دا ځانګړنې له ولور سره کومه رابطه نه لري. که د سولې په باب مقاله کې د دې قبیلې مثال راوړو، نو پر ځای به وي. که د بیان د ازادۍ او د ډیموکراسۍ په باب لیکنه کوو، دغه بېلګه به ورته مناسبه وي، خو دغه مثال د ولور له مسئلې سره مناسب پیوند نه جوړوي. دا هغه پیوند ته ورته دی، چې له شنو جامو سره زېړه ټوټه په سره تار باندې پیوند شوی وي.

البته د ښاغلي باور شینواري په نورو مقالو کې خورا مناسب پیوندونه هم شته، خو ما قصداً دغه مقاله غوره کړه، چې د ضعیف پیوند یو مثال په کې وښیم.

که هر څه رانه وژني خیال و فکر مي مه وژنه
په دې کې مي وطن ته ډېر تاوان لیدلی دی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ